خبرتیا!
د بشري حقونو د ملاتړکوونکو ټولنه
په ایران کې د افغان کډوالو د ناوړه وضعیت په تړاو!

د افغانستان د خلکو او د نړۍ د بشردوستې ټولنې روحیې باندې د افغان کډوالو او پناه غوښتونکو د وضعیت په اړه خپاره شوي دردناک او لړزونکي خبرونه په وروستیو کې ناوړه اغیزې کړې دي. د رسنیو او پناه غوښتونکو ملاتړ کوونکو ادارو لخوا خپاره شوي مستند راپوررونه په ایران کې د بې سرپناه او سرګردان افغان کډوالو سره د ناوړه چلند څرګندونه کوي. په هغه اعلامیه کې چې د ایران د ځایي ادارو لخوا خپره شوې ده، د سرپناه پر محدودیتونو ټینګار شوي او له ټولو څخه غوښتل شوي چې افغان کډوالو ته لومړني امکانات قطع کړي. له بلې خوا، د ایران په ځینو ولایتونو کې خلکو پر افغان کډوالو برید کړی او هغوی یې توهین تحقیر او له فزیکي بریدونو سره مخ کړي دي. مستند تحقیقونه او راپوررونه ښیي چې د ایران پولیس لخوا نیول، شکنجه او ځورونکي چلندونه افغان پناه غوښتونکو او کډوالو ته تحمیل شوي او ځینې یې نادرکه شوي دي. د کار، تعلیم او صحت ته د لاسرسي محدودیتونه د افغان کډوالو ژوند سخت کړی دی. دغه راپوررونه وایي چې ځینې پناه غوښتونکي او کډوال د افسردګۍ او رواني ناروغیو سره مخ دي. هغه افغان کډوال چې په ایران کې په توقیف خانو او زندانونو کې دي، د ابتدایي عدالت او معلوماتو ته د لاسرسي څخه بې برخې دي.

د افغان کډوالو لپاره د کاري محدودیتونو له امله، په کډوالو کې د بې کارۍ او بې برخلیکۍ کچه لوړه شوې او د هغوی کورنیو ته پراخه بې وزلي ورپېښه شوې ده. په ټولو چارو کې په میلیونونو افغان کډوالو پر وړاندې پراخ تبعیض شتون لري. د بشري حقونو د ملاتړکوونکو د ټولنې موندنې ښیي چې د جمهوریت له سقوط وروسته، ګڼ شمېر پناه غوښتونکي خپل ژوند ژغورنې لپاره خپل هېواد پرېښی او ایران ته تښتېدلي دي. د ملګرو ملتونو او بشري حقونو سازمانونو راپوررونه ښیي چې د طالبانو د واکمنۍ لخوا د پخواني دولت نظامیان، د بشري حقونو د ملاتړکوونکي، دولتي کارمندان او مذهبي لږکي د طالبانو د دیفکتو اداري لخوا شکنجه شوي او ځینې یې ژوند له لاسه ورکړی دی؛ نو دا کسان چې له جدي خطر سره مخ دي، پناه غوښتل یې یوازینۍ ګزینه ګڼلې او ایران ته پناه وړې ده. د 1951 کال د پناه غوښتونکو د وضعیت تړون او د مدني او سیاسي حقوقو نړیوال میثاق او نور بشري حقونه، دغه کسان د نړیوال ملاتړ لاندې دي او هېوادونه مکلف دي چې د هغوی اساسي حقوقو ته درناوی وکړي. د ایران اسلامي جمهوریت چې د پناه غوښتونکو د وضعیت د 1951 کال تړون او د هغې پروتوکولونه لاسلیک کړي او همدارنګه د مدني او سیاسي حقوقو نړیوال تړون لاسلیک کړي، مکلف دی چې د افغان کډوالو بنسټیز حقوق د دغو نړیوالو سندونو په چوکاټ کې رعایت کړي. همدارنګه د ملګرو ملتونو د کډوالو عالي کمیشنري دفتر په ایران کې مکلف دی چې د افغان پناه غوښتونکو وضعیت له نږدې وڅېړي او د ایران اسلامي جمهوریت اړ باسي چې د پناه غوښتونکو د وضعیت تړون او نور نړیوالې ژمنې رعایت کړي.

Website: www.hrd-plus.net

Email: Info@hrd-plus.net

د بشري حقونو د ملاتړکوونکو ټولنه چې په ایران کې د کډوالو وضعیت په دقت تعقیبوي، د نړیوالې ټولنې عاجل مداخله غواړي ترڅو په ایران کې د افغان کډوالو پر ضد بشري حقونو محدودیتونه لرې کړي. د بشري حقونو د ملاتړکوونکو ټولنه ټینګار کوي چې دا غیر انساني برخوردونه د یوه ستړې ډلې افغان کډوالو سره، چې د خپل هېواد د سختو شرایطو له امله یې ترک کړی، په ټکر کې دي. د بشري حقونو ملاتړکوونکو ټولنه ټینګار کوي چې دغه غیر انساني چلند د افغان کډوالو پر لویې ډلې چې د خپل هېواد د سختو شرایطو له امله یې مهاجرت کړی دی، د نړیوالو معیارونو او بشري ارزښتونو او د ښه ګاونډیتوب اصولو سره په ټکر کې دی. دا ناسم چلند به د میلیونونو افغان کډوالو چې په ایران کې د مختلفو ښارونو کې ژوند کوي، د ژوند په کیفیت ناوړه اغیزې ولري. دغه د تاوتریخوالي ډک چلند افراطي ګروپونه چې د کډوالو خلاف دي، جرئت ورکوي چې د افغان کډوالو پر وړاندې، چې د نړیوالو ملاتړ لپاره مستحق او په شدیده توګه زیانمن شوي، نوري زیاتي تاوتریخوالي څخه ډک چلند وکړي.

د بشري حقونو د ملاتړکوونکو ټولنې موندنې ښیې چې یو شمېر افغان پناه غوښتونکي، چې د جمهوریت د سقوط وروسته ایران ته پناه وړې وه، د ځینو ایراني اتباعو لخوا د ناسم چلند او د ایران حکومت لخوا د زیات محدودیت له امله، دې ته اړ شوي چې په جبري توګه دغه هېواد پرېږدي او افغانستان ته ستانه شي. ځینې بیرته ستانه شوي کسان د طالبانو لخوا سختې شکنجې او حتی خپل ژوند یې د لاسه ورکړي. د افغان پناه غوښتونکو جبري ایستل د هغه نړیوال منل سوی اصل په مخالفت کې دي چې د جبري ایستلو ممنوعیت ګڼل کیږي. د بشري حقونو د ملاتړکوونکو ټولنه له ایران اسلامي جمهوریت څخه غوښتنه کوي چې دې بشري حقونو ته پابند پاتې شي او د هغو افغان پناه غوښتونکو د جبري ایستلو زمینه برابره نه کړي چې نړیوال ملاتړ ته اړتیا لري.

د بشري حقونو د ملاتړکوونکو ټولنه د افغان پناه غوښتونکو د ستونزې په اړه له سیاسي چلند څخه اندېښنه لري او له ایران اسلامي جمهوریت څخه غواړي چې د افغان کډوالو د وضعیت د تشخیص لپاره دقیق میکانیزمونه د نړیوالو منل شویو معیارونو له مخې جوړ کړي. موقتي سرشمیرنه او لنډمهاله د کارتونو ویش د افغان کډوالو ستونزې نه حلوي، بلکې اندېښنې یې زیاتوي.

د بشري حقونو د ملاتړکوونکو ټولنه د ایران له اسلامي جمهوریت څخه غواړي چې د هغو ایراني اتباعو په وړاندې چې د افغان مهاجرینو د بې حرمتۍ، شکنجې او غیر انساني چلند سبب ګرځي، د کورنیو قوانینو او د بشري حقوقو له معیارونو سره سم قانوني چلند وکړي او پر هغوی عدالت تطبیق کړي.

د بشري حقونو د ملاتړکوونکو ټولنه له ملګرو ملتونو د کډوالو عالي کمیشنرۍ څخه دوستانه او په ټینګار سره غوښتنه کوي چې ژر تر ژره یو تخصصي هیئت ایران ته واستوي او په دې اړه اغیزمن اقدامات وکړي. د حقونو ملاتړکوونکو ټولنه له ښاغلي فیلیپو ګراندي، د ملګرو ملتونو د کډوالو عالي کمیشنر څخه غواړي چې په نږدې فرصت کې ایران ته سفر وکړي او د دې مهمې ستونزې د حل لپاره سالمې برنامې په لاره واچوي.

Website: www.hrd-plus.net

Email: Info@hrd-plus.net

د بشري حقونو د ملاتړکوونکو ټولنه د بشري حقونو شورا، د بشري حقونو کنوانسیونونو څارونکو ادارو، او په ځانګړې توګه د پناه غوښتونکو کنوانسیون څخه غوښتنه کوي چې د نیویارک، جنیوا او ویانا له لارې د ایران اسلامي جمهوریت سره د ډیپلوماسي بشري حقونو جوړوونکي متحرک ډیپلوماسی په کارولو هڅه وکړي ترڅو د دې بحران د حل لارې چارې ومومي.

د بشري حقونو د ملاتړکوونکو ټولنه له ښاغلي ریچارد بینټ، د ملګرو ملتونو ځانګړي راپور ورکوونکي په افغانستان کې د بشري حقونو په چارو کې، غوښتنه کوي چې د روانو تاوتریخوالو د کمولو او د افغان کډوالو د وضعیت د ښه کولو لپاره له ایراني مقاماتو سره اړیکه ونیسي او په هکله یې اړینه همغږي رامنځته کړي .

د بشري حقونو ملاتړکوونکو ټولنه له هغو دولتونو څخه چې د ۱۹۵۱ کال د نړیوال پناه غوښتونکو کنوانسیون لاسلیک کوونکي دي، غوښتنه کوي چې د ایران اسلامي جمهوریت له مقاماتو سره په همغږۍ د نړیوالو منل شویو معیارونو په کارولو سره، د دې پراخ بحران د رفع کولو لپاره حقوقي او سیاسي میکانیزمونه جوړ کړي.

د بشري حقونو ملاتړکوونکو ټولنه له ټولو بشري حقونو ادارو څخه په ایران او سیمه ییزو هېوادونو کې غوښتنه کوي چې د افغانستان د کډوالو وضعیت د حق غوښتني لپاره خپل مهم ونډه ترسره کړي.

د بشري حقونو ملاتړکوونکو ټولنه له ټول نړیوال نظام، دولتونو او نړیوالو سازمانونو څخه په ټینګارسره غوښتنه کوي چې د بشري حقونو د نړیوالي اعلامیې د ۱۴مې مادې حکم پلي کړي ترڅو د افغان کډوالو، چې په سیمه کې یوه لویه زیانمنه ډله ده، ملاتړ وکړي او اغیزمن او جوړوونکي لارې چارې ومني.

د بشري حقونو د ملاتړکوونکو ټولنه په ایران او افغانستان کې له رسنیو او مخورو شخصیتونو څخه غواړي چې په ایران کې د افغان مهاجرینو او پناه غوښتونکو د بشري حقونو د ارزښتونو د روڼ آندۍ او ودې لپاره د ګټور او رغنده کارونو څخه ونه سپمی.
د بشري حقونو د ملاتړکوونکو ټولنه د دغې اعلامیې د غوښتنو د عملي کولو لپاره له ټولو ملي او نړیوالو بنسټونو سره همکارۍ ته چمتو ده.
د بشري حقونو د نړیوالي اعلامیې ۱۴مه ماده

"هرڅوک حق لري چې پناه وغواړي او په نورو هېوادونو کې له شـــکنجې، ځورونې او تعذیب څخه پناه واخلي."